**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

## د ازبکستان حکومت له لوري پر حزب التحرير يو بل تهمت پورې کول

(يوشلار) يا د ازبکستان د ملي راډيو تلويزيون د ځوانانو چينل د «اوسنۍ موضوع» تر سرليک لاندې د ۲۰۲۱م کال، د اپرېل په ۱٦مه، يو پروګرام خپور کړ. په دې پروګرام کې د عمومي څارنوالۍ او نړيوالې اسلامي اکاډمۍ استازو برخه درلوده. اصلي موضوع دا وه چې د حزب التحرير نظريات تخريبوونکي دي، د خلکو تر منځ د نفرت او کرکې تخم شيندي او د اسلام په نامه خلک له لارې باسي. همدا راز حزب التحرير يې د ترهګرو ډلو په لېست کې شکېل وګڼلو. د هغه مسلمانانو د پښيمانۍ ويډيو ګانې يې وښودلې چې د حزب غړي او يا هم د دوی له نظرياتو اغيزمن شوي وو. د دغه پروګرام په جريان کې دا هم وويل شول، کوم کسان چې د دوی عقيده او نظريه نه مني کافر يې بولي. همدا راز نور ناسم تورونه هم وو چې د شرعي مدارکو پر اساس نه وو ولاړ.

موږ ډېر ښه پوهيږو چې دغه پروګرامونه د ازبکستان د حکومت په غوښتنه جوړېږي، تر څو مسلمانان له حزب التحرير څخه ووېروي او منحرف يې کړي. همدا راز موږ په دې هم پوهيږو چې دا نه لومړنی تور دی او نه هم وروستی. له هر څه نه مخکې موږ غواړو يو ځلې بيا دا يادونه وکړو چې ټوله نړۍ پوهيږي چې حزب التحرير ترهګريز سازمان نه دی او دا يوه ډرامه ده چې د تروريزم ټاپه پرې لګيږي، په داسې حال کې چې تر اوسه هيڅ ثبوت هم نشته چې چيرته يې دې له زور زياتي او قدرت څخه کار اخيستی وي.

دا د ظالمو او جابرو حکومتونو دود دی چې داسې کليمې وکاروي چې د اسلام او مسلمانانو، په ځانګړي توګه د حزب التحرير پر وړاندې اصلاً هيڅ واضح نه دي تعريف شوې. د حزب التحرير افکار، عقايد او احکام ټول په صحيح اجتهاد (فقه) له قران، سنت، د اصحابو له اجماع او قياس څخه اخيستل شوي دي. چې په ازادو منابعو او د حزب په رسمي ويب پاڼو کې د لاسرسي وړ دي او هر څوک کولای شي چې په اسانۍ يې تصديق کړي. که چېرته کومه موضوع واضح او د فهم وړ نه وي نو لطفاً زموږ د ويب پاڼې له لارې د راسره په اړيکه کې شي موږ تل بحث او خبرو ته چمتو يو.

په هر صورت، د دغه پروګرام ګډونوال چې د حزب افکار او عقايد يې نه دی مطالعه کړي هڅه کوي چې خلکو ته په دروغ ويلو او پر حزب په تورونو لګولو سره د ظالمانو رضايت ترلاسه کړي، ايا دوی له الله سبحانه وتعالی څخه نه ويريږي!؟ حزب التحرير هيڅکله هغو کسانو ته چې پر دوی باور لري دروغ نه وايي، برعکس هغه کسان چې پر حکومت باور کوي، حکومت يې استفاده کوي او له استفادې وروسته يې ليرې په اشغالو کې غورځوي. همدا راز دا هم څرګنده ده چې زموږ هغه مسلمان ورونه چې په دغه ويډيوګانو کې را ښکاره شول، تر تهديد او ګواښ

لاندې د حزب مخالفت کوي ځکه چې دوی په ځانګړې توګه د امنيتي ځواکونو او پوليسو په واسطه دغه ډول پروګرامونو ته چمتو شوي وو. همدا راز دغه ادعا چې حزب هغه کسان چې د دوی افکار او عقايد نه مني کافر ګڼي، له دروغو او جعل پرته بل څه نه دي. بلاخره، موږ دغه پوښتنه مطرح کوو چې: آيا دغه شر، فساد او د خلکو په منځ کې د دښمنۍ خپرولو ته حزب التحرير لمن وهي يا  دغه خايين واکمنان، چې په زور او چل پر موږ تپل شوي دي او خپل آخرت يې د دنيا په مقابل کې پر کافرو نظامونو باندې پلورلی دی؟ ايا د حزب اشتباه داده چې د تاسو اصلي څېرې ښکاره کوي او مسلمانانو ته دا په ډاګه کوي چې تاسو اسلامي شريعت نه منئ او د کفر د قوانينو سره سم حکومت کوئ؟ ايا د حزب التحرير زرګونه مسلمانان مو د دې لپاره چې يوازې وايې الله سبحانه و تعالی زموږ رب دی زنداني، شکنجه او وژلي نه دي؟! په همدې ډول نورې ډيرې پوښتنې دي، چې هيڅ چا تر اوسه پورې صادقانه ځواب نه دی راکړی.

مسلمانان د حزب التحرير پيروي کوي، ځکه چې دوی ته اسلام د يوې ايډيولوژۍ په توګه تشريح کوي او دوی له حزب سره د کار کولو تصميم نيسي. د تاسو کمزوری انکار هم ژوند ته د اسلام د راستنيدو مخه نه شي ډب کولای. حزب التحرير به دغه لارې ته د خپل ځان او مال په مقابل کې دوام ورکړي، تر څو د الله سبحانه و تعالی دغه امر تحقق ومومي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[وَقُلْ جَاء الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقاً]**

ژباړه: «*او اعلان وکړه چې: حق راغی او باطل له منځه لاړ، باطل له منځه تلونکی دی.*» [اسرا: ۸۱]

**د حزب التحرير- ازبکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د رمضان ٦مه**

**۲۰۲۱م کال، د اپريل ۱۸مه**

**د صدور ګڼه: ۰۱/ ۱۴۴۲**